## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**31 سنبله_سال 1403**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

**عنوان** **صفحه**


د بادغیس د مهاجرینو آمر د مهاجرینو چارو وزیر سره ولیدل---------------------------------------------------1

د قطر سفیر د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر سره ولیدل-------------------------------------------------------1

معین مسلکی وزارت امور مهاجرین، با نماینده سازمان بین المللی مهاجرت، در ولایت فاریاب ملاقات نمود -----------2

بدخشان کې ۳۴ کورنیو ته نغدي مرسته ووېشل شوه -----------------------------------------------------------3

برای ۱۰ خانواده در ولایت سرپل مساعدت صورت گرفت-----------------------------------------------------4

بلخ کې له ۳۱ کورنیو سره نغدي مرسته وشوه-------------------------------------------------------------------5

برنامه آگاهی دهی در ولایت غزنی برگزارشد -----------------------------------------------------------------6

فراه کې له ۲۶ کورنیو سره مرسته وشوه------------------------------------------------------------------------7

د پناه غوښتنې له قوانینو څخه سرغړونه: اروپايي ټولنه له هنګري سره مرستې کموي ----------------------------8

د بخښنې نړیوال سازمان: د جنسي تاوتریخوالي ښځینه قربانیانو غږ نه اورېدل کېږي------------------------------10

شمار پناهجویان و مهاجران در آلمان به ۳/۵ میلیون تن افزایش یافته است-----------------------------------------12

کرواسیا از افزایش بازداشت قاچاقبران خبر داد ------------------------------------------------------------------14

اخراج 2 میلیون مهاجر از ایران به معنای ورود آن‌ها به ترکیه نیست-------------------------------------------15

منابع آگاه در وزارت دفاع ترکیه تأکید کردند که تصمیم ایران برای اخراج 2 میلیون مهاجر به معنای ورود آن‌ها به ترکیه نیست و مرزها تحت کنترل دقیق قرار دارند------------------------------------------------------------16

تیم کریکت افغانستان بار دیگر افریقای جنوبی را شکست سنگین داد------------------------------------------16

پولیس ترکیه ۳۲ مهاجر افغان و پاکستانی را بازداشت کرد ------------------------------------------------------18

# متن کامل اخبار

## د بادغیس د مهاجرینو آمر د مهاجرینو چارو وزیر سره ولیدل

د وزارت ویب سایت



**د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د وږي پر نهه ویشتمه د بادغیس د مهاجرینو چارو آمر نیک محمد حبیب سره د خپل کار په دفتر کې ولیدل.**

**په دې لیدنه کې د بادغیس د مهاجرینو چارو آمر د دغه آمریت کړنې له ښاغلي حقاني سره شریکې کړې او ستونزو ته د رسېدنې غوښتنه یې وکړه.**

**د مهاجرینو چارو وزیر ښاغلي حقاني نوموړي ته د ستونزو د رسېدنې ډاډ ورکړ او د چارو د غوره والي په موخه یې ورته لازمي لارښوونې وکړې.**

## د قطر سفیر د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر سره ولیدل

د وزارت ویب سایت



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



**د قطر دولت سفیر ښاغلي ډاکتر مردف القشوطي د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني سره د ده په کاري دفتر کې ولیدل.**
**په دغه ناسته کې د مهاجرینو او داخلي بېځایه شوو لپاره د سرپناه، روغتیا او تعلیم په برخه کې د مرستو رسولو او ځینو نورو اړینو موضوعاتو په اړه خبرې وشوې.**
**د مهاجرینو چارو وزیر نوموړي ته د ښه راغلاست ترڅنګ افغانستان سره د قطر دولت د مثبتو اړیکو او بشري مرستو مننه وکړه.**
**د قطر سفیر له افغانستان سره د خپلې خواخوږۍ څرګندونه وکړه او ډاډ یې څرګند کړ، چې د مهاجرینو په برخه کې به لا زیاتې بشري مرستې جلب او خپلو هڅو ته به دوام ورکړي.**

## معین مسلکی وزارت امور مهاجرین، با نماینده سازمان بین المللی مهاجرت، در ولایت فاریاب ملاقات نمود

ویب سایت وزارت



**مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان، با نماینده سازمان بین المللی مهاجرت در ولایت فاریاب ملاقات نمود.**

**نماینده آن سازمان در مورد کمک و مساعدت های شان به معین مسلکی وزارت معلومات داده گفت: وظیفه سازمان بین المللی مهاجرت تحت پوشش قرار دادن رد مرزی های که از کشور های ایران، پاکستان، ترکیه ودیکر کشور ها به افغانستان برگشت مینمایند سروی، کمک های نقدی، مواد غیرخوراکی و کمک زمستانی برای خانواده های آسیب پذیر و انتقال آنان به محلات شان میباشد.**

**آقای راشد بر فعالیت آن سازمان در تفاهم و بر اساس طرز العمل فعالیت های موسسات و هماهنگی با ریاست های امورمهاجرین ولایات تاکید بیشتر کرد.**

## بدخشان کې ۳۴ کورنیو ته نغدي مرسته ووېشل شوه

د وزارت ویب سایت




**په بدخشان ولايت کې د وږي پر اته ويشتمه له ۳۴ کورنيو سره نغدي مرسته وشوه.**

**دا کورنۍ وړاندې د کډوالو چارو رياست له خوا د دغه ولايت په بېلابېلو ولسواليو کې اړمنې پيژندل شوې وې او د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ له لوري په دوو برخو کې ۲۱ زره ۵۰۰ او ۱۷ زره ۷۵۰ افغانۍ مرسته ورسره وشوه.**

## برای ۱۰ خانواده در ولایت سرپل مساعدت صورت گرفت

ویب سایت وزارت



**برای ۱۰ خانواده برگشت کننده کشور های همسایه در ولایت سرپل کمک نقدی بتاریخ ۲۸ سنبله توزیع شد.**

**خانواده های مذکور قبلاً از طرف آمریت امور مهاجرین آن ولایت شناسایی شده بودند.**

**مساعدت یاد شده مبلغ ۲ هزار افغانی برای هر عضو خانواده از جانب امارت اسلامی بود که با نظارت کمیته ولایتی و آمریت مهاجرین برای شان توزیع شد.**

## بلخ کې له ۳۱ کورنیو سره نغدي مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت



**په بلخ ولایت کې د وږي پر اته ویشتمه پر ۳۱ اړمنو او راستنېدونکو کورنیو نغدي مرسته ووېشل شوه.**

**دا مرسته د اسلامي امارت له لوري د ټولو کورنیو هر غړي ته دوه دوه زره افغانۍ وه، چې د ولایتي کمیټې او مهاجرینو چارو ریاست تر څارنې لاندې ورکړل شوه.**

## برنامه آگاهی دهی در ولایت غزنی برگزارشد

ویب سایت وزارت



**برنامه آگاهی دهی از فواید اسناد مدنی از طرف ریاست امور مهاجرین ولایت غزنی به همکاری موسسه وستا برای ۸۰ تن بر گشت کننده ها و بیجاشده ها از تاریخ ۲۴ الی ۲۷ سنبله در آن ولایت برگذارشد.**

**برنامه یادشده در مربوطات ولسوالی قره باغ آن ولایت برگذار و در رابطه به مسایل حقوقی و فواید اخذ تذکره وسایر اسناد مدنی آگاهی لازم برای آنان ارایه گردید**

## فراه کې له ۲۶ کورنيو سره مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت




**په فراه ولایت کې د وړې پر اته ویشتمه له ګاونډیو هېوادونو څخه پر ۲۶ راستنو شویو کورنیو نغدي مرسته ووېشل شوه.**

**دا مرسته د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ له خوا له ۲۲ کورنیو سره د ٤٨ زره او پر څلورو کورنیو د ۲٤زره او ۲۵۰ افغانیو په ارزښت وه، چې د دغه ولایت د د مهاجرینو چارو آمریت په څارنه ووېشل شوه.**

## د پناه غوښتني له قوانینو څخه سرغړونه: اروپايي تولنه له هنګري سره مرستي کموي

مهاجرنیوز



اروپايي کميسيون د چهارشنبې په ورځ اعلان وکړ چې له هنګري سره ۲۰۰ میلیونه یورو مرستې کموي .دا اعلان وروسته له هغه کېږي چې څو میاشتې وړاندې هنګري د اروپا د عدالت محکمې له خوا د پناه غوښتنې له اروپايي قوانينو څخه د سرغړونې له امله۲۰۰ میلیونه یورو جریمه شوه، خو له ورکولو یې ډډه وکړه.

د اروپا د عدالت محکمې د روان کال په جون میاشت کې هنګري د کډوالو او پناه غوښتونکو له حقونو څخه د سرغړونې له امله ۲۰۰ میلیونه یورو جریمه کړه.

اوس د اروپايي کمیسیون چارواکي وايي هنګري د دغه مبلغ له ورکولو ډډه کړې نو ځکه اروپايي ټولنه له دغه هېواد سره ۲۰۰ میلیونه یورو مرستې کموي.

د اروپايي ټولنې د عدالت محکمې د جون په ۱۳مه هنګري د پناه غوښتنې له اروپايي قوانینو سره د سرغړونې له امله ۲۰۰ میلیونه جریمه کړه. دغه قضايي ارګان همداراز د هنګري حکومت ته امر کړی و چې د محکمې د پرېکړې عملي کولو کې د ځنډ په صورت کې هره ورځ باید یو میلیون یورو جریمه ورکړي.

محکمې په خپل پرېکړه لیک کې ویلي وو چې هنګري د نړیوالې ساتنې د ورکولو او د دربمو هېوادونو د بې اسناده اتباعو د ایستلو په برخه کې پاته راغلې او له اروپايي قوانینو سره یې سرغړونه کړې ده. بوداپست ته د محکمې له خوا د سپتمبر تر ۱۷مې پورې مهلت ورکړل شوی و چې دغه مبلغ تادیه کړي.

**دا هم ولولئ**
**پناه غوښتنه: د اروپا د عدالت محکمې هنګري د اروپايي ټولنې له قوانينو په سرغړونه تورنه کړه**

**د اروپايي کميسيون وياند بالاس يوواري يوې خبري غونډې ته وويل چې اوس «دا ضرب الاجل پای ته رسېدلی او دا په دې مانا ده چې کميسيون د اړوندو قوانينو پر اساس د جبران خسارت له پروسيجر څخه کار اخلي. موږ هنګري ته د اروپايي ټولنې له ځانګړې شوې بوديجې څخه ۲۰۰ ميليونه يورو کموو.» د نوموړي په وينا، دا پروسيجر به لږ وخت ونيسي.**

**د کډوالو پر وړاندې سخت دريځ**

**سربېره پر دې، ياد کميسيون له هنګري څخه غوښتي ده چې د پرېکړې عملي کولو کې د ځنډ له امله ( د جون له ۱۳مې څخه د سپتمبر تر ۱۳مې پورې) هم بايد ۹۳ ميليونه يورو ورکړي. د هنګري چارواکو ته ۴۵ ورځې مهلت ورکړل شوی ترڅو دغه مبلغ تاديه کړي.**

**هنګري په جولای مياشت کې اعلان کړی و چې د جريمې د ورکولو تصميم نه لري، خو کميسيون بيا ويلي وو چې دا کار له هنګري سره د مرستو د کمېدو سبب ګرځېدلی شي. د هنګري لومړي وزير ويکتور اوربان د محکمې پرېکړه »شوک ورکوونکي او د نه منلو وړ« بللې او ويلي يې وو چې هغه د اروپا د پولو ساتنه کوي.**

**هنګري يو له هغو هېوادونو دی چې د کډوالو پر وړاندې سخت دريځ لري. په ۲۰۱۵ کې وېکتور اوربان امر کړی و چې د کډوالو د ورتګ د مخنيوي لپاره له صربستان سره پر پوله يو فلزي ديوال جوړ شي. دغه اروپايي هيواد په وار وار له خپلې خاورې څخه د کډوالو په شا تمبولو او ايستلو هم تورن شوی دی.**

**د ۲۰۲۱ کال د مارچ په مياشت کې د وېکتور اوربان دولت له افغان او ايراني کډوالو سره د ناوړه او غيرانساني چلند له امله محکمې ته معرفي شوی و.**

**همدارنګه د اروپا عالي محکمې د ۲۰۲۰ کال په دېسمبر کې هم اعلان کړی و چې هنګري د اروپايي ټولنې د کډوالی له قوانينو څخه سرغړونه کړې. د قاضيانو په حکم کې راغلي و چې پناه غوښتنې ته د لاسرسي پرته د پناه غوښتونکو اخراج له قوانينو څخه سرغړونه ده.**

## د بخښنې نړيوال سازمان: د جنسي تاوتريخوالي ښځينه قربانيانو غږ نه اورېدل کېږي

مهاجرنيوز



د بخښنې نړیوال سازمان وایي په فرانسه کې د جنسي تاوتریخوالي ښځینه قربانیان رسمي مراجعو ته د لاسرسي په برخه کې له جدي ستونزو سره مخامخ دي. دغه سازمان د چارواکو له خوا د کډوالو مېرمنو شکایتونو ته پر نه پاملرنې نیوکه کوي او لیکي چې «د قربانیانو د شکایت ثبتول» د پولیسو «دنده» ده او د مېرمنو اداري حالت باید ورسره تړاو ونه لري .

د بخښنې نړیوال سازمان د یو راپور په خپرولو سره چې د یو شمېر نورو سازمانونو په مرسته یې چمتو کړی لیکلي دي چې «د هغو کسانو لپاره چې اسناد نه لري پولیسو ته شکایت کول ځکه سخت دي چې معمولاً همدغه ادارې د بې اسناده کډوالو د ایستلو مسولیت لري «.

د دې راپور له مخې، د تاوتریخوالي یو شمېر قربانیانې پولیسو ته له شکایت سره سم نیول شوې او یو شمېر نورې ښځې د اسنادو د نه لرلو له کبله ایستل شوې دي .

په راپور کې د سیماد سازمان له قوله راغلي دي چې کډوالې ښځې «نه یوازې خپلو اصلي هېوادونو، د کډوالۍ پر لارو او په فرانسه کې له تاوتریخوالي سره مخامخ دي، بلکې د بهرنیو په توګه په دولتي ادارو کې هم د تاوتریخوالي قرباني کېږي.«

د بخښنې نړیوال سازمان مسولې ویولن هوسون یوې خبري غونډې ته وویل چې د ۲۰۲۳ له جنورۍ راهیسې ۱۷ ښځې چې پولیسو یا ژاندارمرۍ ته یې شکایت ثبت کړی و اداري توقیف ځای ته اچول شوې دي.

د یادو سازمانونو په وینا، دا نظریه چې ګواکې مهاجرې مېرمنې د «اسنادو د ترلاسه کولو لپاره «له تاوتریخوالي څخه شکایت ثتبوي، د ښځو د لا ځورونې سبب ګرځېدلې ده .

**دا هم ولولئ**

**فرانسه کې د هغو ښځو د پناه غوښتنه څه ډول کیږي چې د ختنه کیدو قرباني وي؟**

**د قربانیانو شکایت ته نه پاملرنه**

**د بخښنې نړیوال سازمان د پولیسو له خوا د کډوالو مېرمنو شکایتونو ته پر نه پاملرنې نیوکه کړې او لیکلي یې دي چې «د قربانیانو د شکایت ثبتول» د پولیسو »دنده» ده او د مېرمنو اداري حالت باید ورسره تړاو ونه لري .**

**د یادولو ده چې د هغو ښځو شمېر په مخ زیاتېدو دی چې د تاوتریخوالي او یا سرکوب له امله کډوالۍ ته زړه ښه کوي او د مهاجرت پر لارو یا کوربه هېوادونو کې د ځورونې او جنسي تاوتریخوالي سره مخامخ کیږي. د ډېریو دغو ښځو غږ نه اورېدل کیږي او ورسره مرستې کافي نه دي .**

**د فرانسې د ښځو د حقونو پخوانۍ وزیرې نجات والو بالقاسم (۲۰۱۲-۲۰۱۴) چې اوسمهال د وَن غیردولتي سازمان او د فرانس تغ دزیل ادارې مشره ده، د روان کال په مارچ میاشت کې کډوال نیوز ته ویلي وو چې ښځې د نارینه و په پرتله زیاتې زیان منونکې وي .**

**نوموړې ویلي وو څېړنې ښیي چې «څنګه مهاجرې ښځې په فرانسه کې هم له تاوتریخوالي کړېږي، په ځانګړې توګه هغه وخت چې د سرپناه د نه لرلو له امله د سړکونو پر غاړه ژوند کولو ته اړ کیږي. اړوندې شمېر وحشتناکي دي: دوی د نورو مېرمنو په پرتله ۱۸ ځله زیاتې د جنسي تېري قرباني کیږي«.**

**د بخښنې نړیوال سازمان په خپل راپور کې لیکلي دي چې هغه کډوالې چې د کورني تاوتریخوالي قربانیانې دي باید وتوانیږي چې په فرانسه کې پاتې شي او تر حفاظت لاندې وي.**

## شمار پناهجویان و مهاجران در آلمان به ۳/۵ میلیون تن افزایش یافته است

مهاجرنیوز



**براساس پاسخ حکومت آلمان فدرال به سوال جناح چپ در پارلمان این کشور شمار پناهجویان و مهاجران مقیم در آلمان یک بار دیگر رکورد شکسته است. براساس ارقام دفتر مرکزی ثبت مشخصات شهروندان خارجی، در اواخر نیمه نخست سال ۲۰۲۴ رقم مجموعی پناهجویان و مهاجران در آلمان به حدود ۳/۴۸ میلیون نفر می رسد. .**

**روزنامه آلمانی «نویه اوسنابروکر سایتونگ» (شماره روز جمعه) با رجوع به پاسخ حکومت آلمان فدرال به سوال فراکسیون حزب چپ نوشت، براساس ارقام دفتر مرکزی ثبت مشخصات شهروندان خارجی « »در اواخر نیمه نخست سال ۲۰۲۴ حدود ۳/۴۸ میلیون پناهجو و مهاجر در کشور بوده اند.**

**به این ترتیب شمار آن ها حدود ۶۰ هزار تن بیشتر از اواخر سال ۲۰۲۳ بوده است. از سال های ۱۹۵۰ میلادی به این سو این رقم بی سابقه است.**

**براساس این گزارش در این ارقام همه پناهجویان و مهاجران بدون توجه به مدارک اقامت شان شامل هستند. از افرادی که به دلایل بشردوستانه به آلمان پناه جسته اند گرفته تا آن هایی که به رسمیت شناخته شده اند و همچنین افرادی که برگه دولدونگ (مدرک تحمل) دارند.**

**براین اساس از مجموعا ۳/۴۸ میلیون پناهجو حدود ۱/۱۸میلیون تن شهروندان اوکراینی بوده اند که گفته می شود تعداد آن ها در مقایسه با اواخر سال ۲۰۲۳ حدود ۴۵ هزار تن افزایش یافته است .**

**در ادامه این گزارش آمده است که به خاطر روند اخراج و خروج افراد از کشور شمار افراد ملزم به خروج از آلمان رو به کاهش است .**

براساس این ارقام در اواسط سال روان میلادی، ۲۲۶ هزار و ۸۸۲ تن ملزم به خروج از کشوربودند که به این ترتیب شمار آن ها در مقایسه با أواخر سال گذشته میلادی حدود ۱۵ هزار و ۷۶۰ تن کمتر شده است.

۸۰٫۵ درصد از افراد ملزم به خروج از کشور فقط برگه دولدونگ دارند، چون آن ها را به خاطر شرایط در کشورهای مبدا شان نمی شود اخراج کرد .

کلارا بونگر، سخنگوی امور پناهجویان در جناح چپ با اشاره به این ارقام از روند بحث درباره مهاجرت انتقاد کرد و به روزنامه «نویه اوسنا بروکر سایتونگ «گفت: «در مجموع حدود ۳٫۵ میلیون تن پناهجو و مهاجر در آلمان زندگی می کنند که بسیاری از آن ها از دهه ها پیش در این جا هستند. آن ها فقط چهار درصد از کل جمعیت کشور را تشکیل می دهند .«

## کرواسیا از افزایش بازداشت قاچاقبران خبر داد

مهاجرنیوز




کرواسیا روز چهارشنبه از افزایش بازداشت قاچاقبران و کاهش شمار مهاجران خبر داد و گفت که بیشتر آن ها از بوسنیا وارد این کشور می شوند .گفته می شود که باندهای مسلح قاچاقبران در آن جا توسط مهاجران افغان اداره می شوند .

کرواسیا که عضو اتحادیه اروپا است، یک کشور اصلی ترانزیت برای مهاجرانی است که از مناقشات در خاورمیانه فرار می کنند و سعی می کنند از طریق مسیر «بالقان» وارد اتحادیه اروپا شوند .

کارشناسان می گویند که افزایش بازداشت ها می تواند به خاطر افزایش استفاده مهاجران از باندهای قاچاقبران باشد. در حالی که تعداد افرادی که سعی می کنند به تنهایی راهی برای عبور از مرز پیدا کنند، کاهش یافته است .

در همین زمینه

**کرواسیا: ۱۴ مهاجر بعد از فرار یک کامیون از چنگ پولیس زخمی شدند**

وزارت داخله کرواسیا روز چهارشنبه گفت که مسئولان در سال روان ۱۴۳۰ تن را به جرم قاچاق انسان بازداشت کرده اند که به این ترتیب شمار آن ها در مقایسه با همین دوره در سال گذشته ۴۰ درصد افزایش یافته است .

این وزارت در ادامه به خبرگزاری فرانسه (ای اف پی) گفت، ۲۱ هزار و ۹۰۹ مهاجر غیرقانونی که بیشترشان از سوریه، ترکیه و افغانستان هستند بازداشت شده اند. به این ترتیب شمار آن ها در مقایسه با همین دوره در سال گذشته ۶۰ درصد کاهش یافته است .

کرواسیا که در آغاز سال ۲۰۲۳ به منطقه شینگن ملحق شده است، در سال های اخیرنظارت بر مرزهایش را به صورت قابل توجهی تقویت کرده است .

این کشور که در حوزه بالقان قرار دارد، با بوسنی و هرزگوین، صربستان و مونته نگرو که عضو اتحادیه اروپا نیستند، هم مرز است و یکی از اولین مسیرهای ورودی ممکن به اتحادیه اروپا برای مهاجران است .

به گفته آژانس محافظت از مرزهای اتحادیه اروپا (فرانتکس)، در سال گذشته تقریبا ۱۰۰ هزار مهاجر از طریق مسیر بالقان وارد اتحادیه اروپا شدند .

وزارت داخله کرواسیا گفت، بیش از ۹۰ درصد از مهاجران غیرقانونی از طریق بوسنیا، کشور همسایه کرواسیا وارد این کشور می شوند و افزود که «فشار (بر آن ها) با سرعتی مشابه ادامه پیدا می کند .«

این وزارت درباره ملیت افرادی که به جرم قاچاق انسان بازداشت شده اند، چیزی نگفت، اما مقام های رسمی در اوائل سال روان گفته بودند که ۸۰ درصد از آن ها خارجی هستند و عمدتا شهروندان بوسنیا، رومانیا، اوکرایین و صربستان می باشند .

زارکو لاکیتا، رئیس نهاد دولتی رسیدگی به امور شهروندان خارجی در بوسنیا چندی پیش گفته بود که باندهای مسلح قاچاقبران در بوسنیا معمولا توسط مهاجران افغان اداره می شوند .

در اوائل این هفته پولیس در جنوب صربستان دو قاچاقبر مظنون را بازداشت کرد و پس از تعقیب یک موتر جسد یک مهاجر را پیدا کرد .ماموران تحقیق گفتند که مهاجران دیگر در این موتر فرار کرده اند، اما جزئیات بیشتری در اختیار نگذاشتند .

در ماه اگست، مهاجران سعی داشتند از یک رودخانه بین بوسنیا و صربستان عبور کنند که قایق شان واژگون شد و ۱۲ مهاجر جان باختند .

## اخراج 2 میلیون مهاجر از ایران به معنای ورود آن‌ها به ترکیه نیست

صدای ترکیه

**منابع آگاه در وزارت دفاع ترکیه تأکید کردند که تصمیم ایران برای اخراج 2 میلیون مهاجر به معنای ورود آن‌ها به ترکیه نیست و مرزها تحت کنترل دقیق قرار دارند**




**منابع وزارت دفاع ترکیه در پاسخ به سوالات درباره تصمیم ایران برای اخراج 2 میلیون مهاجر، تأکید کردند که این تصمیم به معنای ورود این مهاجران به ترکیه نیست.**

**آن‌ها همچنین افزودند که مرزهای ترکیه با سیستم‌های پیشرفته محافظت شده و تعداد مهاجران غیرقانونی در پنج سال اخیر به پایین‌ترین سطح رسیده است.**

**منابع وزارت دفاع همچنین اقدام ایران برای افزایش تدابیر لازم در این زمینه را به عنوان گامی مثبت ارزیابی کردند.**

**-اقدامات امنیتی پس از انفجار دستگاه‌های بی‌سیم در لبنان**

**این منابع همچنین در ارتباط با انفجار بی‌سیم‌ها و پیجرها در لبنان گفتند که نیروهای مسلح ترکیه از سیستم‌ها و نرم‌افزارهای بومی استفاده می‌کنند و اگر طرف سوم به هر نحوی در فرآیند تولید دخالت داشته باشد، مکانیسم‌های کنترلی حساس‌تری در فرآیند عرضه و تولید استفاده می‌شود.**

## تیم کریکت افغانستان بار دیگر افریقای جنوبی را شکست سنگین داد

آریانانیوز

**با این پیروزی، افغانستان برنده سلسله مسابقات دوجانبه شد. در بازی اول روز چهارشنبه، افغانستان با تفاوت ۶ ویکت افریقای جنوبی را شکست داده بود.**




تیم ملی کریکت افغانستان روز جمعه یک پیروزی قدرتمندانه دیگر مقابل افریقای جنوبی به دست آورد. افغانستان در دومین مسابقه بین المللی یک روزه با تفاوت ۱۷۷ دوش افریقای جنوبی را شکست داد و برنده سلسله مسابقات دوجانبه شد.

رحمن الله گربز ۱۰۵ دوش انجام داد و افغانستان به طور مجموعی با از دست دادن ۴ ویکت ۳۱۱ دوش به دست آورد. راشد خان در سالروز تولد خود پنج ویکت گرفت و افریقای جنوبی با انجام دادن ۱۳۴ دوش حذف شد.

با این پیروزی، افغانستان برنده سلسله مسابقات دوجانبه شد. در بازی اول روز چهارشنبه، افغانستان با تفاوت ۶ ویکت افریقای جنوبی را شکست داده بود.

افغانستان پس از برنده شدن قرعه در مسابقه روز جمعه، کاملاً بازی را در اختیار داشت و توپزنی فوق العاده‌ای را به نمایش گذاشت.

گربز با انجام دادن ۱۰۵ دوش از ۱۱۰ توپ به حیث بازیکنی تبدیل شد که بیشترین صد دوش را در مسابقات بین المللی یک روزه افغانستان به دست آورده است. عظمت الله عمرزی از ۵۰ توپ ۸۶ دوش مشمول ۶ ضربه شش دوش انجام داد.

رحمت شاه نیز ۵۰ دوش کسب کرد.

افریقای جنوبی در تعقیب هدف تعیین شده، شروع خوبی داشت چنانچه تمبا باووما، کپیتان تیم و تونی دزورزی به گونه مشترک ۷۳ دوش انجام دادند.

اما پس از اینکه باووما توسط عمرزی حذف شد، افریقای جنوبی به سرعت ویکت‌های خود را از دست داد.

**راشد خان که در هنگام توپزنی از ناحیه پایش آسیب دیده بود، در ۹ آور پنج ویکت گرفت و تنها ۱۹ دوش واگذار کرد. ننگیال خروتی ۴ ویکت گرفت و ۲۶ دوش واگذار کرد.**

**راشد خان بهترین بازیکن مسابقه شناخته شد.**

**آخرین بازی این سلسله مسابقات روز یکشنبه در شارجه برگزار خواهد شد.**

## پولیس ترکیه ۳۲ مهاجر افغان و پاکستانی را بازداشت کرد

خامه پرس




**رسانه‌های ترکیه از بازداشت ۳۲ مهاجران بدون مدرک پاکستانی و افغان از مربوطات این کشور خبر داده است.**

**به گزارش رسانه‌های ترکی به تعداد ۳۲ تن از مهاجران اهل افغانستان و پاکستان دیروز(جمعه، ۳۱ سنبله ) از شهر ادیرنه از سوی پولیس این کشور بازداشت شدند.**

**بر بنیاد گزارش رسانه‌های ترکیه مهاجران بازداشت شده به صورت غیر قانونی و بدون اسناد اقامه وارد این کشور شده بودند که از سوی پولیس این کشور گرفتار شدند.**

**گفتنیست که بازداشت شده گان افغان و پاکستانی طی عملیاتی از روستای مریچ، اپیسالا، لالاپاشا و اوزونکوپرو، در ایست‌های بازرسی، شناسایی و سپس بازداشت شده اند.**

**در همین حال به تازگی پولیس شهر ادیرنه همچنان اعلام کرده که به منظور جلوگیری مهاجرت های غیر قانونی عملیات را در سر تا سر این کشور به راه انداخته اند.**

**پولیس این شهر همچنان تصریح کرده که این روند همچنان ادامه دارد.**

**پیش از این نیز دولت ترکیه اعلام کرده بود که شناسایی و اخراج مهاجران غیرقانونی را در تمام شهرها ادامه می‌دهد.**

**گفتنیست که ترکیه یکی از مسیرهای اصلی مهاجران افغان برای رسیدن به اروپا است. بیشتر این مهاجران از ایران وارد ترکیه می‌شوند.**

خبرنامه